عمومي اسامبله

امنيت شورا

خپرېدل: عمومي
۹ سپتمبر ۲۰۱۴
اصل: انګليسي

عمومي اسامبله
نهه شپيتمه ناسته
د اجنډا ۳۷ ماده
**د افغانستان وضعيت**

د امنيت شورا
نهه شپېتم کال

## د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې*

## د عمومي منشي راپور

### اول. پيژندنه

۱. دغه موجوده راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړه ليک او د امنيت شورا د ۲۱۴۵ (۲۰۱۴) پريکړه ليک په تعقيب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي ، چې په هرو دريو مياشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي. زما د ۲۰۱۴ کال د جون د ۱۸ د ۳ نيټې (A/٦٩/٩١٠-S/٢٠١٤/٤٢٠) د راپور د خپريدو راهيسې، دغه راپور د پام وړ بشري، پراختيايي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعاليتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور همداراز د افغانستان په تړاو د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو او د سيمه ييزو او نړيوالو پيښو لنډيز برابروي.

### دوهم. اړوند پرمختګونه

۲. د ولسمشرۍ ټاکنو د دوهم پړاو سيالۍ د جون په ۱۴ د عبدالله عبدالله او اشرف غني احمدزي تر منځ ترسره شوه. په درې مياشتو کې د دوهم ځل لپاره د ميليونونو افغانانو لخوا د هغوي د رايو ورکولو په خاطر د دوی د څرګند هوډ او د افغان امنيتي ځواکونو د کړنو څخه په هيواد او نړيواله کچه باندې هرکلی وشو. دا ځل هم د ياغيتوب له امله پروسې ته کومه د پام وړ ګډوډې متوجه نه شوه. په هرصورت ، د رايو را وروسته اونيو په ترڅ کې د پراخو درغليو د تورونو او د ټاکنيزو کميسيونونه د اړوندو فعاليتونو په اړه سياسي فشارونه را مخې ته شول، د هيواد د سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيز چاپيريال لپاره د بې ثباتي د جدي پايلو په درلودلو سره يې جدي سياسي کړکيچ ته لار هواره کړه.

۳. د دواړو نومانانو او د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي په غوښتنه، د ټاکنيزې پروسې د ملاتړ په برخه کې ملګرو ملتونو يو پراخ رول په غاړه واخيست تر څو د ولسمشريزو ټاکنو په برخه کې يوې پراخې منل شوې پايلې ته د رسيدو په موخه مرسته وشي. پدې ظرفيت کې، ملګري ملتونه د دوهم پړاو رايو بې سارې بشپړ تفتيش له نږدې څاري. په دې اړه توافق او د

---

* د اکتوبر په ۲۱ د تخنيکي دلايلو له مخې بيا خپور شوی؛ مخکې د ٢٠١٤/٦٥٦ / S-٦٨/٩٨٨ / A سمبول لاندې خپور شوی.

ملي يووالي د حکومت د رامنځ ته کولو لپاره يو سياسي چوکاټ چې د دواړو کانديدانو تر منځ په يوه هوکړه ليک کې را برسيره شو، کوم چې د جولای په ۱۲ او د اکسټ په ۸ د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو د وزير جان کيري لخوا تسهيل شو.

**الف. سياسي پرمختګونه**

۴. د اپريل په ۵ د ولسمشريزو ټاکنو په تعقيب، په کوم چې هيڅ کانديد له ۵۰ سلنې څخه ډيرې رايې ترلاسه نه کړې، د دوهم پړاو سيالی د جون د مياشتې په ۱۴ د دوو مخکښو کانديدانو ښاغلي عبدالله (په لومړي پړاو کې د ۴۵ سلنې) په درلودلو سره او د ښاغلی غني تر منځ د (۶. ۳۱ سلنې) په درلودلو سره ترسره شوې. د ټاکنو د دويم پړاو په درشل کې، دواړو نوماندانو په ټول هيواد کې کمپاين وکړ ترڅو خپلې اړوندې انتخاباتي حوزې تنظيم کړي او هغو ټولنو ته رسيدنه وکړي کومو چې په لومړي پړاو ټاکنو کې برخه نه وه اخيستي يا يې ملاتړ نه وه کړی. په موازي ډول، نوماندانو د لومړي پړاو ټاکنو د شپږو ناکامه کانديدانو په شمول د نفوذ لرونکي سياسي شريکانو د تاييد غوښتنه وکړه. پداسې حال کې چې کانديدانو پخپله د ملي يووالي په ګټه يو محترمانه کمپاين ترسره کړ، د هغوي د ملاتړ کونکو عناصرو له خوا، په ځانګړي توګه د ټولنيزو رسنيو د چينلونو په کچه د پام وړ کم محدوديتونه وو.

۵. د رايې ورکولو څخه وړاندې، د ټاکنو خپلواک کميسيون، د ټولټال ۷۰۰۴۱ نمايندګانو په شمول، ټولټال ۱۱۰۷۸۴ کتونکو ته اعتبار ليکونه ورکړل تر څو په دوهم پړاو ټاکنو کې روڼوالی ترويج کړي. د لومړي پړاو ټاکنو څخه د ترلاسه شويو مشقونو او د نوماندانو له خوا د سپارښتونو پر بنسټ، انتخاباتي کتونکو او نړيوالي ټولنې او کميسيون د ياد بهير په اړه يو شمير تعدلونه معرفي کړل، د بيلګې په توګه، لا له وړاندې د بيړنيو توکو ځای پر ځای کول څو په ښه توګه وکولای شي د رايو د کمښت په صورت کې غبرګون وښيې. د رايې ورکونکو د لاسرسي د ښه کولو په خاطر د رايې ورکونې د موجوده مرکزونو په دننه کې د رای ورکونې نږدې ۲۰۰۰ اضافي مرکزونه را منځ ته شول. د طالبانو له خوا د خپرو شويو اعلاميو سربيره په کومو کې چې ټاکنې غندل شوې وې او د بهير سره د پريکون غوښتنه شوې وه، خو بيا هم د طالبانو لخوا د مخالفت کچه هغومره نه وه لکه څومره چې ښودل شوې وه او د رايې ورکولو په ورځ يې ډير انعطاف وښود ، د راپورونو له مخې دې کړنې خلکو ته د هيواد په سويل ختيځ کې په يو شمير ولسواليو کې د رايې ورکولو زمينه برابره کړه. کميسيون راپور ورکړ چې د رای ورکونې د ټولټال ۶۳۶۵ مرکزونو له جملې څخه چې پلان و د ټاکنو په ورځ فعاليت وکړي، ۱۴۰ يې د امنيتي دلايلو له امله تړل شوي وو.

۶. د جون په ۱۴ د رای ورکونې د بهير په پای کې، کميسيون راپور ورکړ چې له اوو ميليونو څخه ډيرې رايې (د نارينه وو د رايې ورکولو په مرکزونو کې ۶۲ سلنه او د ښځو د رايې ورکولو په مرکزونو کې ۳۸ سلنه) اچول شوي. د رايې ورکولو ارقام په سمدستي ډول د ښاغلي عبدالله لخوا تر پوښتنې لاندې راغله، د هغه د کمپاين ټيم د رايې ورکولو د ډيرو لږو ارقامو اټکل وکړ. د جون په ۱۸، ښاغلي عبدالله د انتخاباتي پروسې څخه خپله نه ښکيلتيا اعلان کړه، د موسساتي تعصب تور يې ولګاوه او ادعا يې وکړه چې د راپور شويو لوړو ارقامو بنسټ پر پراخه درغليو ولاړ وه. هغه بيا د پروسې د ارزونې د درولو او د کميسيون د مشر ټاکنيز افسر، ضيا الحق امرخېل د استعفا غوښتنه وکړه ، او ادعا کوي چې نوموړی په انتخاباتي درغليو کې ښکيل دی. ښاغلي غني په ځواب کې وويل چې په يو شمير ولايتونو کې د رايه ورکونکو لويه برخه د رايې ورکونکو د تحرک لپاره د هغه د ټيم د اغيزمنو هڅو له امله وه. د جون په ۲۳، مشر انتخاباتي افسر مستعفي شو او و يې ويل چې د ملي ګټو په خاطر له خپلې دندې څخه لاس په سر کيږي او پر خپل ځان يې لګيدلي تورونه رد کړل. د جون په ۲۵، ښاغلي عبدالله د ۶ معيارونو وړانديز وکړ چې موخه يې د ټاکنيز بهير سره د هغه د بيا ښکيلتيا لپاره د وړاند شرطونو په حيث د درغليو په اړه او د رايو د تفتيش د وړانديز شويو طرزالعملونو په شمول د هغه اندېښنو ته ځواب ويل دي. د جون په ۲۸، کميسيون ياد وړانديزونه رد کړل. د جون په ۲۷، ښاغلی عبدالله په کابل کې د نږدې ۱۵۰۰۰ ملاتړو سره په يوه لاريون کې يو ځای شو او غوښتنه يې کوله چې د درغليو ادعاوو ته رسيدګي وشي. د مزار شريف او باميانو په ښارونو کې د هغه ملاتړو ورته خو کوچني لاريونونه په لار واچول.

۷. په يوه هڅه کې چې موخه يې د درغليو اندېښنو او مخ پر زياتيدونکي سياسي کړکيچ ته ځواب ويل و، کميسيون د جولای په لومړۍ نيټه د رايې ورکولو د نږدې ۲۰۰۰ محلونو تفتيش پيل کړ او په هغو محلونو چيرې چې ۵۹۹ او يا د هغو څخه زياتې رايې کارول شوي ( ۶۰۰ رای پاڼې د هر محل پر سر برابري شوې) تمرکز وکړ. دا تفتيش د ښاغلي عبدالله لخوا د هغې پراخې کچې درغليو د تورونو د په نښه کولو لپاره کافي نه و او هغه د تفتيش د پراخېدو غوښتنه وکړه. د جولای پر ۴، د دواړو

نوماندانو استازي د يوه لا پراخ او نيرومند تفتيش لپاره د يوه چوکاټ پر سر د موافقې په يوه هڅه کې په دوو اړخيزو خبرو کې ښکيل شول. د دې کار د پر مخ بيولو لپاره هڅوي د ملګرو ملتونو د ښه نيت د دفترونو او تخنيکي همکاري غوښتنه وکړه. د دواړو نوماندانو تر منځ د پراخو سياسي خبرو اترو د عمومي چتر لاندې هم د ولسمشر کرزي د مرستيالان محمد يونس قانوني او محمد کريم خليلي له خوا هڅې ترسره شوې. د يو شمير مهمو مسلو په اړه د هر اړخ له خوا د توافق سربيره، او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي د ښه نيت هڅو د نوې تفتيش د پلان په اړه ټوليز توافق تر لاسه نه کړ.

٨. په داسې کړکيچن چاپيريال کې او د کانديدانو تر منځ په خبرو اترو سره، د دوهم پړاو ټاکنو ابتدايي پايلې د کميسيون لخوا د جولای په ٧ د ملګرو ملتونو د مشورې پرته خپرې شوې. د ټولټال ٧٩٤٧٥٢٧ بااعتباره رايو څخه ښاغلي غني د ٤. ٥٤ سلنې او ښاغلي عبدالله د ٦. ٤٣ سلنې په ترلاسه کولو سره، ابتدايي پايلې د لومړنۍ پړاو څخه د کانديدانو د دريځ بدلون په ګوته کوي. د موازي حکومت د يوه اړخيز جوړېدو لپاره د غوښتنې په جريان کې، ښاغلي عبدالله خپلو پلويانو ته په خطاب کې وويل او له هغوی يې وغوښتل چې د څو ورځو لپاره صبر وکړي. ښاغلي غني د لومړنيو پايلو د منلو پرمهال له خپلو پلويانو څخه هم وغوښتل چې صبر وکړي او وروستۍ پايلو ته سترګې په لار و اوسي. هغه د سياسي ثبات د خونديتوب لپاره د احتمالي اضافي تفتيش او خبرو هرکلی وکړ. د لومړنيو پايلو د اعتبار پر سر د کمپاين د دواړو ډلو ترمنځ د جدي اختلافاتو د کمولو لپاره، د جولای په ٩ او ١٠، ملګرو ملتونو د تفتيش يو قوي پلان وړاندې کړ چې شاوخوا ٨٠٥٠ د رايې ورکولو مرکزونه به تر خپل پوښښ لاندې نيسي، خو د ښاغلي عبدالله سره پرې موافقې ته ونه رسيدل.

٩. سياسي کړکيچ ته د ځواب ويلو په موخه، د بهرنيو چارو وزير جان کيري د جولای په ١١ کابل ته ورسيد او د دواړو لوريو تر منځ يې په ژوره ډيپلوماسي پيل وکړ. د جولای په ١٢، په يوه ګډ خبري کنفرانس کې چې د ملګرو ملتونو په کوربتوب جوړ شوی و، ښاغليو عبدالله او غني د هغه سياسي او تخنيکي چوکاټ په اړه چې د بهرنيو چارو د وزير جان کيري سره په سلا مشوره کې جوړ شوی و خپل تړون تصديق کړ. د هوکړه ليک مهم تخنيکي عنصرونه په هغو سپارښتونو ولاړ و کوم چې د ملګرو ملتونو له خوا چمتو شوې وو او د ټولو ټولټال ٢٢٨٢٨ رای پاڼو د بکسونو بشپړ تفتيش چې په دوهم پړاو کې کارول شوې وو ، احتوا کوي. په دې موافقه وشوه چې بشپړ تفتيش به د کميسيون له خوا د کميسيون په مرکزي دفتر کې د ملي او نړيوال نظارت لاندې ترسره کوي ، او د دواړو نوماندانو د ټيمونو د استازيو لخوا به پکې ګډون کيږي او نظارت به يې هم کيږي. د هوکړه ليک سره په سمون او د دواړو نوماندانو سره په سلا مشوره کې، د ملګرو ملتونو څخه وغوښتل شول چې د تفتيش د ترسره کولو په اړه سپارښتنې چمتو کړي.

١٠. دواړو نوماندانو ومنله چې په ياد بهير کې به ګډون کوي، او د تفتيش پايلو به مني. دوی همدارنګه موافقه وکړه چې راتلونکی ولسمشر به د اجرائيه رييس د موقف د را منځ ته کولو په شمول د ملي يووالي حکومت تشکيلوي. په دې اړه هم ژمنه وشوه چې دوو کلونو په ترڅ کې به لويه جرګه را بولي تر څو د اجرائيه لومړي وزير د پوسټ د را منځ ته کولو او د يوه کال په دننه کې د ټاکنو د سيستم په اړه د تقررونو او اساسي اصلاحاتو په برخه کې د برابري په هکله د پراخو هوکړو په اړه د اساسي قانون په تعديل خبرې وکړي.

١١. د تړون لخوا د رامنځ ته شوي سياسي خوځښت د ساتلو په خاطر، د چيک ليست سره په سمون کې کوم چې د جولای د ١٢ نيټې په تړون کې ځای شوی، د جولای په ١٧ کميسيون د رايو د صندوقونو فزيکي تفتيش پيل شو. په هرصورت، د کمپاين دواړو ټيمونو او کميسيون موافقه وکړه چې د رای صندوقونو فزيکي تفتيش پيل شي، د رايو د باطلېدو يا نه باطلېدو په اړه د تفتيش موندنې او پريکړې به بيا تر هغه وخته پورې وځنډول شي تر څو چې د رايو د بيا شمېرنې او باطلېدو په معيارونو موافقه نه وي شوې. په موازي توګه، د جولای په ١٨، د نړيوال امنيت د مرستندويه ځواک (آيساف) او ملګرو ملتونو له خوا هوايي عمليات پيل شول تر څو د رای بکسونو د ليږد په برخه کې کوم چې د هيواد له نورو ٣٣ ولايتونو څخه کابل ته د دويم پړاو ټاکنو پر مهال کارول شوي وو د هغو د ليږدولو په برخه کې مرسته وکړي. د رايو د صندوقونو د انتقال په چارو کې د کميسيون چارواکو او د نوماندانو نمايندګانو شتون درلود او دا لړۍ د کومې پيښې د ترسره کيدو پرته د اګست په ٥ بشپړه شوه.

١٢. د جولای په ٢٤، د کمپاين د دواړو ټيمونو او کميسيون سره د ١٠ ورځو خبرو اترو وروسته، ملګرو ملتونو کميسيون ته د رايو د بيا شميرلو او باطلېدو د معيارونو په اړه يوه طرحه وړاندې کړه چې د جولای په ٣٠ د کمپاين له ټيمونو سره له نورو

مشورو وروسته رسما تصویب شوه. په دې اړه اطمینان ورکړل شو چې څنګه د تفتیش په واسطه نوي معلومات تر لاسه شي، ملګري ملتونه به غور وکړي چې ایا اړوند طرزالعملونه تصفیه کولو ته اړتیا لري.

۱۳. د جولای په میاشت کې د تفتیش په اړه پرمختګ سوکه و، نوماند ټیمونو په پراګنده ډول خپل ګډون ځنډاوه. د کوچني اختر د رخصتیو وروسته، د مقرراتي چوکاټ په پشپړیدو او د کاندیدانو سره د بحثونو په تعقیب ژمنه تر لاسه شوه چې دا بهیر به په خپل وخت سره بشپړوي او د تفتیش چارې په ډیره اساني سره پرمخ ولاړې. د اګست په ۱۶، کمیسیون د سپارښتونو د یوې برخې په حیث چې موخه یې د تفتیش د پروسې د پرمختګ ښه والی دی د رایو د نومول شویو صندوقونو ځانګړې څېړنه پیل کړه. د دې لپاره چې د رای صندوقونو په اړه د کومو په اړه چې دوی زیاتي اندیښنې لري زیاته پاملرنه وشي، موافقه وشوه چې هر کاندید کولای شي تر ۳۰۰۰ پورې د صندوقونو د ځانګړې څېړنې غوښتنه وکړي. د رایو ټول صندوقونه چې ځانګړي تفتیش ته اړتیا لري د بشپړ تفتیش څخه تیر شول او په اوتومات ډول حساب شول.

۱۴. د تفتیش بهتر شوی فعالیت د یوې نړیوالې هڅې لخوا تسهیل شوی و ترڅو د اروپایي اتحادیې د ټاکنو د ارزونې د ټیم، د آزادو ټاکنو لپاره د اسیا د شبکې، د متحده ایالاتو د میشتو غیر دولتي سازمانونو د ملي ډیموکراتیک انسټیټیوټ، او د ډیموکراسۍ انټرنیشنل، د یو شمیر افغان داخلي کتونکي سازمانونو، د بیلګې په توګه، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د ټولنې، د افغانستان د شفافو ټاکنو د بنسټ او د افغانستان د ځوانانو د ملي او ټولنیز سازمان څخه سلګونه ټاکنیز څارونکي بسیج کړي. د دې علاوه، په کابل کې ۱۷ نړیوالو دیپلوماتیکو ماموریتونو د څارونکو په توګه د تفتیش څخه د ملاتړ په موخه خپلو ډیپلوماتیکو کارمندانو ته دنده وسپارله تر څو په داوطلبانه توګه د تفتیش د چارو سره مرسته وکړي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د کارمندانو او د هیواد په کچه د ملګرو ملتونو د ۴۸ انتخاباتي کارپوهانو سربیره ، زما انتخاباتي سلاکار ، د ملګرو ملتونو د ټاکنو یو لوړ پوړی کارپوه او د انتخاباتي سیسټمونو لپاره د نړیوال بنسټ یو لوړ پوړی انتخاباتي مشاور ، او له ۱۲۳ څخه ډیر د ملګرو ملتونو د ټولټاکنو کارپوهان د نړۍ په کچه د ملګرو ملتونو له دفترونو او ماموریتونو څخه په چټکه توګه ګمارل شوي ترڅو د تفتیش د پروسې د نظارت او د نړیوالو غوره کړنو په اړه د مشورې د چمتو کولو په برخه کې مرسته وکړي.

۱۵. د اګست په ۷، د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر کیري بیرته کابل ته راستون شو ترڅو د دواړو نوماندانو سره د سیاسي ژمنې د اصلاح او تایید په برخه کې چې د جولای په ۱۲ یې ورسره کړي وو، ملاتړ وکړي. د اګست په ۸، ښاغلي عبدالله او ښاغلي غني په یوه ګډه اعلامیه موافقه وکړه او په هغه وروستي مطبوعاتي کنفرانس کې چې زما د ځانګړي استازي په کوربه توب جوړ شوی وه ، په دې ټینګار وشو چې د کمپاین د دورې څخه ور ها خوا حرکت وکړو او د ملي یووالي د حکومت په جوړولو تمرکز وکړو. په اعلامیه کې، نوماندانو د اساسي قانون لومړیتوب په ګوته کړ او د سیاسي او تخنیکي مسیرونو د جوتولو په اړه یې د جولای د ۱۲ نیټې پر ژمنې بیا ټینګار وکړ. دوی بیاتایید کړه چې راتلونکی ولسمشر به د مخالفینو سره د ورتیا او برابري د پخوانیو منل شویو اصولو پر اساس د ملي یووالي حکومت جوړ کړي، او اعلان یې وکړ چې دوی به د نوي حکومت د جوړښت د جزئیاتو په اړه د خبرو لپاره یو ګډ کمیسیون جوړ کړي. همداراز دواړو نوماندانو ومنله چې د تفتیش لپاره به د تفتیش پروسه د ملګرو ملتونو د تفتیش د بیا شمېرنې او باطلو د معیارونو پر اساس پرمخ بوځي، چې موخه یې د اګست د میاشتې تر پایه پورې د ولسمشرۍ د لوړې د مراسمو تر سره کول دي. دواړو نوماندانو او ولسمشر کرزي د تفتیش د بشپړیدو او د هغه زماني چوکاټ په دننه کې د نوی ولسمشر د اعلانیدو په اړه غوښتنه تکرار کړه.

۱۶. د اګسټ په ۱۷، د ملي یووالي د حکومت د جوړیدو په اړه د ترون په غبرګون کې، د کندهار په ښار کې لاریونونه ترسره شول او یو شمیر لاریون کونکو ګواښ وکړ چې که چیرې په افغانستان باندې ائتلافي حکومت وتپل شي نو دوی به د طالبانو د تحریک ملاتړ وکړي او غوښتنه یې کوله که چیرې د ملي یووالی حکومت را منځ ته کیږي نو طالبان او د اسلامي ګوند یې هم باید برخه و اوسي. . د اګست په ۱۹، د کابل د تفتیش په ساحه کې د کمپاین د نمایندګانو او د ټاکنو د لندمهاله کارمندانو ترمنځ نښتې وشوې چې په پایله کې یې ګڼ شمیر کسان ټپیان شول.

۱۷. د اګسټ په ۲۵، د رای پاڼو د پریکړو لومړی مجموعه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا خپره شوه. پدې لومړۍ مجموعه کې ټولټال ۳۵۴۵ صندقونه شامل وو؛ له دې جملې څخه، د ۷۲ صندوقونو پایلې بې اعتباره وګڼل شوې او ۶۹۷

نورې باید بیا له سره وشمیرل شي. د اعلان وروسته، د ښاغلي عبدالله د کمپاین ټیم اعلان وکړ چې دوی د تفتیش د پروسې څخه بهر کیږي او د اګست په ۲۷ د تفتیش د بهیر څخه ووتل. د تفتیش د بهیر څخه د وتلو په رڼا کې، او د پروسې د بشپړتیا او عدل ساتلو لپاره، ملګرو ملتونو د ښاغلي غني له ټیم څخه وغوښتل چې خپل نمایندګان د تفتیش د بهیر څخه وباسي، او پدې توګه به د انتخاباتي چارواکو، د ملګرو ملتونو د مشاورینو او خپلواکو کتونکو په شتون کې تفتیش نهایي شي. د سپټمبر په ۵، کمیسیون اعلان وکړ چې د ۲۲۸۲۸ رایو صندوقونو فزیکي تفتیش یې بشپړ کړ.

۱۸. د ولایتي شوراګانو د ټاکنو وروستۍ پایلې چې د اپریل په ۵ ترسره شوې وې، باید په اصل کې د جون په ۷ خپرې شوې وای، مګر د ټاکنو په اړه د شکایتونو د خپلواک کمیسیون لخوا د ولسمشرۍ ټاکنو د کار د تر سره کیدو لپاره ځنډول شوې. د اګست په۱۶، د شکایتونو کمیسیون د ولایتي شوراګانو د ټاکنو په تړاو د ۲۹۱۸ شکایتونو په اړه قضاوت بیا پیل کړ، او د ټاکنو له خپلواک کمیسیون څخه یې غوښتنه وکړه چې د کابل، ننګرهار، پروان او بغلان د ولایتونو د رایو د صندوقونه بیاشمېرنه پیل کړي.

۱۹. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې، د افغانستان ملي شورا، د ترهګرۍ د تمویل د مخنیوي او د پیسو مینځلو سره د مبارزې د قانون په ګډون، کوم چې د ولسمشر لخوا د جون په ۲۶ نیټه نافذ شوی وو، یو شمیر قوانین تصویب کړل. د ټولنیزې هوساینې، کانونو او معلوماتو ته د لاسرسي قوانین د ملي شورا د دواړو مجلسینو له خوا تصویب شول.

۲۰. د ولسمشرۍ د دوهم پړاو ټاکنو په اړه د سیاسي تمرکز د پایلې په حیث، د راپور ورکولو د مودې پر مهال د سولې د بهیر په اړه محدود پرمختګ شوی. د جون په ۲۱، یوه ځانمرګي بریدګر په کابل کې د سولې د عالي شورا د دارالانشا د مشر، محمد معصوم ستانکزي د موټرو کاروان په نښه کړ. په دې پیښه کې یو تن ووژل شو او د ښاغلي ستانکزي په ګډون یو شمیر نور ټپیان شول. د افغان سولې او بیا یوځای کیدنې د پروګرام ګډ سکرتریت راپور ورکړ چې د اګست تر ۱۵ پورې ټولټال ۸۸۸۰ کسان د ټولټال ۸۰۳ قومندانانو په ګډون د پروګرام سره یو ځای شوي او ۶۷۹۴ میله وسلې را ټولې شوې. په ۲۵ ولایتونو کې د کوچنۍ بسپنو ۱۶۴ پروژې تصویب شوې، چې دا د ټولنې د غړو او افرادو لپاره د بیا یوځای کیدو په موخه د دندو لنډمهاله فرصتونه برابروي.

۲۱. د جولای په ۱، ولسمشر کرزي یو ځل بیا پر وسله والو مخالفینو غږ وکړ چې له تاوتریخوالي څخه لاس واخلي او د بهرنیانو لپاره د وسیلې په توګه د افغانستان د کمزوري کولو څخه ډډه وکړي او په هلمند ولایت کې یې نښتو ته ګوته ونیوله. د جولای په ۱۵، یو بیان چې ملا محمد عمر ته منسوب شوی او د کوچني اختر په مناسبت خپور شوی، په ټینګار سره پکې راغلي چې غورځنګ د نورو هیوادونو په داخلي چارو کې د مداخلې هوډ نه لري او طالبانو ته یې لارښونه وکړه چې د ملکي کسانو د تلفاتو د پیښیدو څخه مخنیوی وکړي. د اګست په ۴، د ګلبدین حکمتیار اسلامي ګوند وسله والې ډلې خبر وکړ چې د یادې ډلې چارواکي کابل ته تللي تر څو د ولسمشرۍ د دواړو نوماندانو تر منځ منځګړیتوب وکړي او همداراز په دې امکان هم چې یاده ډله د نوې حکومت سره یو ځای شي، خبرې وکړي. وروسته د دواړو نوماندانو استازو دا رد کړه چې دا ډول بحثونه شوي.

**ب. امنیت**

**۲۲.** یاغي ډلو، نړیوالو ترهګرو او اړوندو شبکو د اوږده سیاسي او ټاکنیز کړکیچ او بې باوري څخه ګټه پورته کړه تر څو په ټول هیواد کې، په ځانګړي توګه په سویل کې په هلمند ولایت کې، په لویدیځ کې د فاریاب او غور په ولایتونو کې، په مرکز کې د لوګر په ولایت کې او په ختیځ کې د نورستان په ولایت کې او په شمال ختیځ کې د کندز په ولایت کې لوی بریدونه ترسره کړي. داسې ښکاري چې په دې سره هڅه کیږي د یاغیانو نفوذ د هغه څه څخه کوم چې په واقیعت کې دی لوړ وښیې. حتی که دوی د یاغیانو د شتون او د خوځښت د ازادي د مخنیوي په خاطر، په ځانګړي توګه په لیرې پرتو کلیوالي ولسوالیو کې سرچینې هم نه لري، افغان امنیتي ځواکونو په پرله پسې توګه د یاغیانو د ډیرى بریدونو د مخنیوي او د ولسوالیو د مرکزونو او امنیتی تاسیساتو د کنټرول د بیا ترلاسه کولو په برخه کې خپل اغیزمنتوب په ډاګه کړی. دا پرمختګونه د امنیت په اړه د ټاکنیز کړکیچ د منفي اغیزو، د ایساف د ماموریت د پای ته رسیدو او په شمالي وزیرستان اجنسي کې د پاکستان له خوا د پوځي عملیاتو په حواله د پام وړ عامه او رسنیزي پاملرنې پروړاندې ترسره شو.

۲۳.	ملګرو ملتونو په ټول هیواد کې د ملکیانو په فعالیت، خوځښت او خوندیتوب پورې د اړوندو امنیتي پیښو نظارت کولو ته چې د ملګرو ملتونو د اختیاري فعالیتونو او پروګرامونو د تحویل په چارو اغیزه لري،دوام ورکړی. د جون د ۱ او د اګسټ د ۱۵ تر منځ، ملګرو ملتونو د هیواد په کچه د امنیت ټولټال ۵۴۵۶ اړوندې پیښې مستندې کړې چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۷. ۱۰ سلنه زیاتالی او د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۷. ۱۸ سلنه زیاتوالی ښيې. کله چې یې د ۲۰۱۱ کال د ارقامو سره پرتله کوو، دا ۶. ۱۲ کمښت منعکسوي. د یوه داخلي کارکونکي د نیولو، د ګواښ د څلورو پیښو، د ملګرو ملتونو د کاروان پر وړاندې د ریموټ کنټرول له لارې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د یوې آلې، د ملګرو ملتونو د کاروان پر وړاندې چې خوراکي توکي یې لیږدول د سپکو وسلو د ډزو/ د ډبرو د ویشتلو د یوې پیښې او په یوه بله جلا پیښه کې د خوراکي توکو د غلا په شمول په ټولیزه توګه ۱۳ پیښو د ملګرو ملتونو پرسونل اغیزمن کړي. د پیښو زیاتوالی د هغو عملیاتو سره تړاو لري چې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا رهبري شوي او تمرکز یې د ولسمشرۍ پر دوهم پړاو ټاکنو، د "خیبر" تر نوم لاندې د طالبانو پر روانو بریدونو او د یاغیانو له خوا پر هغو هڅو وو چې موخه یې د انتخاباتي پروسې ګډوډول و. د جون په ۱۴، کله چې افغانان د ولسمشرۍ ټاکنو په دویم پړاو کې د ګډون په موخه د رایو صندوقونو ته ولاړل، ملګرو ملتونو په ټول هیواد کې ۵۳۰ امنیتي پیښې ثبت کړې، چې دا د اپریل په ۵ د ټاکنو په لومړي پړاو کې د شمیرو په پرتله ۳. ۱۱ سلنه ډیروالی ښيې؛ چې لږ تر لږه ۲۳۷ پیښې په مستقیم ډول د ټاکنو په پروسې پورې اړوندې وې.

۲۴.	د راپور ورکولو د مودې پر مهال، وسله والې شخړې د امنیتي پیښو۳. ۴۷ سلنه جوړوي چې ور پسې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي راځي (۱. ۲۹). د ډار او ګواښ له لارې د نفوذ د اعمال په لټه کې، هدفي وژنو په لوړه کچه دوام وموند. په ټوله کې، د جون د ۱ او د اکسټ د ۱۵ تر منځ، د ترور ۲۱۱ او د ناکامه ترور ۳۰ پیښې ثبت شوې دي چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۱. ۷ زیاتوالی ښيې. د ورته مودې په جریان کې، ۳۶ ځانمرګي بریدونه ریکارډ شوې، کله چې یې د راپور ورکولو د مخکني مودې د (۳۲ ځانمرګي بریدونو) او د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې د (۳۳ ځانمرګي بریدونو) سره پرتله کوو نو دا یوه کمه اندازه زیاتوالی جوتوي. د راپور شوي مودې په جریان کې په پام وړ پیښو کې د جولای په ۱۵ د هیواد په سویل ختیځ کې د پکتیکا ولایت د ارګون په ولسوالۍ کې د بازار په یوه بوخته سیمه کې د ځانمرګی برید یوه پیښه شامله ده چې په نتیجه کې یې ۴۳ ملکي کسان ووژل شول او نور ۹۵ ټپیان شول. په لویدیځ کې د غور په ولایت کې، د جولای په ۲۵، ۱۵ تنه له هغه وروسته چې د دوی د سپرلي بس موترونه د نا پیژاندو وسله والو له خوا ودرول شول، ووژل شول. د اګسټ په ۵، د افغانستان د ملي دفاع پوهنتون په داخلي/نفوذي برید کې یو لوړ پوړی نړیوال پوځي افسر او څلور افغان پرسونل ووژل شوو ، او نور ۱۴ نړیوال او شپږ افغان پوځي پرسونل ټپیان شول.

۲۵.	په ټولیز ډول، د هیواد په سویل، سویل ختیځو او ختیځو برخو کې امنیتي پیښې د ټولو پیښو۳. ۵۳ سلنه برخه جوړوي. تدارکاتي لارو ته د لاسي او د خلکو د یوې برخې څخه د ملاتړ له لارې، د ډاروني په شمول، دولت ضد عناصر توانیدلي چې په دې سیمو کې خپل قوي شتون او د لوړو فعالیتونو کچې وساتي.

۲۶.	د ۲۰۱۴ کال د جولای تر ۲۰ نیټې پورې، د ټولټال ۱۸۷۰۰۰ ځواک جوړښت پر وړاندې، د افغان ملي پوځ ټولټال ۱۸۳۳۴۳ تنه پرسونل لري چې له هغه جملې څخه یې ۶۹۲۹ تنه د افغان هوايي ځواکونو پرسونل دي. د پوځ څخه د سرتیرو د تیښتې ټولیز ارقام د مخکینۍ دورې سره مطابقت لري او د تجربه لرونکو او لوړ پوړو افسرانو په شمول، د بیا نوم لیکنې ارقام ټیټ پاته شوې. د دې راپور د چمتو کولو پر مهال، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو تر اداري لاندې د قانون او نظم وجهي صندوق، د ټولټال ۱۵۷۰۰۰ هدف پر وړاندې د ټولټال ۱۴۷۰۷۷ پولیس پرسونلو او د مرکزي محبس ریاست د ټولټال ۵۶۴۹ ساتونکو سره مرسته کړې. د حساب ورکونې او روڼوالي د کچې د زیاتولو لپاره، د وجهي صندوق له خوا تر پوښښ لاندې د نیول شوي پرسونل په بانکي حسابونو کې د معاشونو د تادیاتو د ډیروالي لپاره دوامداره هڅې د دې لامل شوې چې د پولیسو د ۸۲ سلنې پرسونل او د محابسو د ۹۸ سلنې ساتونکو د میاشتنۍ معاشاتو توزیع په مستقیم ډول وسپارل شي. د کورنیو چارو وزارت د یوناما له اړخه ملاتړ ترلاسه کړ تر څو په دواړو ساحو کې د پالیسي د چوکاټ او عملیاتي لارښودونو په جوړولو سره د مرستې په شکل کې، د مردمي پولیسو کړنو او فعالیتونو ته ځای ورکړل شي او په ولایتي کچه د ښځینه پولیسو د شورا ګانو را منځ ته کول رسمي شي.

۲۷. د افغان سیمه ییزو پولیسو امنیتي نوښت چې نظارت یې د کورنیو چارو د وزارت لخوا ترسره کیږي، پراخیدو ته دوام ورکوي. د اګست د میاشتې تر ۱۵ نیټې پورې، د ۲۹ ولایتونو په ۱۵۰ ولسوالیو کې ټولټال ۲۸۷۸۰ پرسونل موجود وو، د راپور سره سم د ټولټال ۳۰۰۰۰ تایید شوې پرسونل پاته برخه یا خو تر استخدام او یا تر روزنې لاندې وه. د افغان سیمه ییزو پولیسو د ځای پر ځای کیدو څخه وروسته، زیات شمیر ټولنو د امنیت د ښه کیدو راپور ورکړی.

## ج. سیمه ییزه همکاري

۲۸. د امنیتي مسلو په اړه د پاکستان سره د ښکیلتیا په اړه د خاص تمرکز په درلودلو سره، افغانستان د سیمه ییزې همکارۍ د ترویج په برخه کې د خپلو ګاونډیانو سره ښکیلتیا ته دوام ورکوي. د جون په ۲۵، د ملي امنیت او بهرنیو چارو په اړه د پاکستان د لومړي وزیر سلاکار سرتاج عزیز د پاکستان د مشرانو جرګې د بهرنیو اړیکو کمیټې ته وینا وکړ او ژمنه یې وکړه چې د افراطیت او تروریزم سره د مبارزې لپاره به د افغانستان له نوي حکومت سره ګډه ستراتیژي جوړه کړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې اړوندې سیمې د یو بل په وړاندې د بریدونو او تخریب لپاره و نه کارول شي، او په نورو برخو کې همکارۍ وده ورکړي. د جون په ۲۶، د افغانستان د ملي امنیت سلاکار رنګین دادفر سپنتا، د پاکستاني همکارانو سره د ترهګرۍ پر ضد د همکارۍ او د افغانستان د سولې په هڅو کې د پاکستان د رول په اړه اسلام آباد ته د خبرو په موخه د لوړ پوړو چارواکو د یوه پلاوي رهبري وکړه. دواړو لورو هوکړه وکړه چې د امنیت په اړه به د لوړې کچې ګډه کاري ډله جوړه کړي.

۲۹. د بلواګرو ډلو لپاره د ملاتړ او پټنځایونو د متقابلو ادعاوو په درلودلو سره چې د یو بل پر خاوره کې د بریدونو سره تړاو لري، د افغانستان او پاکستان تر منځ د پولې په اوږدو کې تاوتریخوالی دوام لري. د اګست په ۴، د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ادعا وکړه چې په افغانستان کې د ترهګرو لپاره د پاکستان د دوامداره ملاتړ په اړه شواهد لري او د هیواد په ختیځه سیمه یعني کنړ کې یې د پاکستان څخه د بریدونو او د پلې له ها خوا د راکټي بریدونو پر وړاندې خپل اعتراض وکړ. پاکستاني چارواکو په دې ډول بریدونو کې خپله ښکیلتیا رد کړه. په ورته ورځ، پاکستاني چارواکو یو وار بیا د افغان چاواکو څخه وغوښتل چې د تحریک طالبان پاکستان مشر ملا فضل الله دوی ته وسپاري او همداراز یې تور پورې کړ چې د افغانستان په ختیځو ولایتونو کې پټ دی.

۳۰. د جولای په ۲، د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس د آسیا او ارام سمندر د چارو لپاره د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو له مرستیال وزیر ابراهیم رحیم پور سره په کابل کې وکتل ترڅو په دې خبرې وکړي چې په ټولو برخو کې څنګه دوه اړخیزې اړیکې را منځ ته کړي. د جولای په ۸، افغانستان ، هند ، پاکستان او ترکمنستان د ترکمنستان - افغانستان - پاکستان - هند د ګازو د پایپ لاین لپاره عملیاتي پلان لاسلیک کړ.

۳۱. د جولای په ۱۰، د یوه خوندي او ټیکاو لرونکي افغانستان لپاره د سیمه ییزه امنیت او همکارۍ په اړه د استانبول د بهیر د لوړ پوړو چارواکو وروستۍ ناسته په بیجینګ کې ترسره شوه او ګډه مشري یې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت د معین، ارشاد احمدي او د چین د بهرنیو چارو د وزارت د معین، لیو ژینمین له خوا وشوه. د ۱۲ حکومتونو د استازو په ګډون، د برخې اخیستنې کچه ډیره پراخه وه. دې غونډې ګډونوالو ته یو فرصت برابر کړ تر څو د استانبول د پروسې د وزیرانو د کچې د څلورم کنفرانس لپاره د اعلامیې په مسودې باندې اضافي نظریات ورکړي، او د اعتماد جوړونې د شپږو اقداماتو په برخه کې د تر لاسه شوې پرمختګ په اړه راپورونه وړاندې شول.

۳۲. د جولای په ۲۴، د افغانستان لپاره د چین نوي ځانګړي استازي د سولې په پروسه کې د خپل هیواد د احتمالي رول او د مخ پر زیاتیدونکي اقتصادي ښکیلتیا په اړه د خبرو لپاره کابل ته سفر وکړ. د جولای په ۲۷، اعلان شوه چې د وزیرانو څلورم کنفرانس، چې تمه کیده د اګست په ۲۹ په تیانجن کې جوړ شي، په افغانستان کې د اوږد ټاکنیز بهیر له امله وځنډول شو. د یاد کنفرانس د دایریدو لپاره لا کومه نیټه نه ده اعلان شوې.

۳۳. زما ځانګړي استازي د اګست په ۱۶ او ۱۷ له تهران او د اګست په ۲۷ له اسلام آباد څخه لیدنه وکړه، او د لوړ پوړو حکومتي چارواکو سره یې ولیدل. د دواړو هیوادونو په پلازمینو کې پر دې توافق موجود و چې د افغانستان په ثبات کې د سیمې ګډې ګټې نغښتي دي او د شراکت پر اساس د ملي یووالي د حکومت لپاره ملاتړ څرګند شوی. د هغو تدبیرونو د ملاتړ لپاره چې

موخه يې د پروسې د اعتبار پياوړي کول دي، د ټاکنيزو پايلو چې په پراخه کچه منل شوې وي د يوه لومړيتوب په سترګه کتل شوې.

**دريم. بشري حقونه**

۳۴. د جولای په ۹، يوناما په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه خپل شپږ مياشتنی راپور خپور کړ، چې د جنوري له لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ نيټې پورې موده تر پوښښ لاندې نيسي. په راپور کې يوناما ۱۵۶۴ ملکي تلفات او ۳۲۸۹ ملکي ټپي کيدنې(۴۸۵۳ ملکي تلفات) مستند کړي، چې دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۲۴ سلنه ډيروالی ښيي. راپور ۷۴ سلنه ملکي تلفات دولت ضد عناصرو، ۹ سلنه دولت پلوه ځواکونو، ۱۲ سلنه د دواړو ډلو تر منځ پيښيدونکو ځمکنيو نښتو ته منسوب کړي، چيرې چې مرتکبين مشخص وو. يوناما يادونه کړې چې د سپکو وسلو، راکيټونو او هاوانونو د توغولو په شمول ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو، په خاصه توګه د ښځو او ماشومانو مخکښه لامل پاته شوی، دا د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ثبت شويو تلفاتو په برخه کې ۸۹ سلنه زياتوالی ښيي چې د ۲۰۱۴ کال د لومړيو شپږو مياشتو په جريان کې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۹ سلنه جوړوي. د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو کارول هم ۷ سلنه زيات شوي، د ټولټال ۴۶۳ وژنو او ۱۰۰۰ ټپي کيدنو لامل شوي (۱۴۶۳ تلفات)، دا د ۲۰۰۹ کال را په دې خوا د دې تاکتيک لپاره تر ټولو لوړ ارقام دي. يوناما همدارنګه د په لاس جوړ چاوديدونکو بې توپيره فشاري آلو د بيا کارولو يادونه کړې د کومو په نتيجه کې چې ۱۶۱ملکي کسان وژل شوې او نور ۱۴۷ ټپيان شوې (۳۰۸ ملکي تلفات)، دا د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۳۳ زياتوالی ښيي. يوناما مشاهده کړې چې طالبانو د ۱۴۷بريدونو ادعا په مستقيم کړې، چې په پايله کې يې ۲۳۴ ملکي وګړي وژل شوي او ۳۱۹ ملکي وګړي ټپيان شوي (۵۵۳ ملکي تلفات). د طالبانو جنګيالو په ښکاره د دغو بريدونو ۷۵ هغه يې په پوځي موخو ور ويشتلي چې په بې توپيره توګه يې ملکيانو ته زيان اړولی، په داسې حال کې چې ۶۹ بريدونو په عمدي توګه ملکي موخې په نښه کړې. يوناما همدارنګه د ملکي وګړو ۲۲ مړينې او ۲۹ ټپي کيدنې (۵۱ ملکي تلفات) مستند کړې کوم چې د افغان سيمه ييزو پوليسو ځمکنيو نښتو او د بشري حقونو سرغړونو ته منسوب دي. که څه هم چې د داسې سرغړونو په اړه د نيونو او محکوميتونو په اړه ځيني موارد ثبت شوې، خو معافيت يو نورم پاته شوی.

۳۵. د جنوري د ۱ او د اګست د ۱۵ تر منځ، يوناما ټولټال۲۸۹۱ ملکي تلفات (۹۵۶ مړينې او ۱۹۳۵ ټپي کيدنې) مستند کړې، چې تر ډيره د ځمکنيو نښتو له امله را منځ ته شوي (۲۸۲ مړينې، ۸۹۸ ټپي کيدنې)، په لاس جوړ چاوديدونکي توکي (۲۶۵ مړينې، ۶۱۷ ټپي کيدنې) او ځانمرګي او ډله ييز بريدونه (۹۵ مړينې، ۲۴۹ ټپي کيدنې). ښځې او ماشومان د تلفاتو ۲۸ سلنه جوړوي. د همدې مودې پر مهال، دولت ضد عناصر د ټولو ملکي تلفاتو د ۷۵ سلنې لامل وو، په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونه د ۸ سلنې مسؤل وو، ۱۵ سلنه د دواړو ډلو تر منځ ځمکنۍ نښتو ته منسوب شوې، پاته تلفات کومې ډلې ته نه دې منسوب شوي يا د پولې په اوږدو کې د ډزو د تبادلې له امله را منځ ته شوې. د ولسمشرۍ د دوهم پړاو ټاکنو په اړه تاوتريخوالي هم د ملکي کسانو تحفظ او ساتنه اغيزمنه کړې. د جون په ۱۴، د ولسمشرۍ د دوهم پړاو ټاکنو پر مهال، يوناما ۲۱۷ ملکي تلفات (۵۴ مړينې، ۱۶۳ ټپي کيدنې) مستند کړي، په دې کې هغه نارينه او ښځې، د کميسيون کارکونکي، ماشومان او نور ملکيان شامل وو چا چې د رای ورکولو خپل حقونه کارول، په هغو بريدونو کې په نښه شول چې په عمدي توګه يې ټاکنيز بهير په نښه کړ. د ملکي تلفاتو سربيره، يوناما د ټولټال ۸۷ پوليسو د تلفات په اړه راپورونه تر لاسه کړل: د رايو د مرکزونو د ساتلو يا د کميسيون د انتخاباتي توکو د کاروانونو د بدرګه کولو پرمهال ۲۱ تنه پوليس وژل شوې او نور ۶۶ تنه ټپيان شوي دي. د جولای په ۲۷، د وزيرانو شورا دارالانشاء يوه اعلاميه خپره کړه، او د امنيتی عملياتو په جريان کې يې د ملکي وګړو د ساتنې پر اهميت او د استوګنې او د وګړو د ګڼې ګوڼې په سيمو کې يې د درنو وسلو د کارولو په منع ټينګار وګړ. د ملي دفاع وزارت ، د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت رياست ته يې د ولسمشر هغه فرمان کوم چې د ۲۰۱۳ کال په فبروري کې خپور شوی و او د استوګنې په سيمو کې يې د ملکي تلفاتو د مخنيوي په خاطر د هوايي بريدونو د مخنيوي غوښتنه کړې وه، ور ياد کړ.

۳۶. د جنوري د ۱ او د اګست د ۱۵ تر منځ، د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د نظارت او راپور ورکولو په هکله د ملګرو ملتونو په مشرۍ د هيواد کاري ځواک ټولټال ۲۱۵ پيښې مستندې کړي چې د ټولټال۱۵۸ ماشومانو د وژل کيدو او نورو ۳۲۲ ماشومانو د ټپي کيدو لامل شوې. د ماشومانو د تلفاتو ډيری برخه د ختيځې سيمې څخه راپور شوې، چيرې چې ۱۱۳ ماشومان وژل شوي او ټپيان شوي دي. ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د مړينې او ټپي کيدو اصلي لامل و ، چې ۵۴ ماشومان يې

وژلې او ۱۸۰ نور يې ټپيان کړي. د ولسمشرۍ د دويم پړاو ټاکنو په ورځ ، ۱۹ ماشومان مړه او ۵۷ ټپيان شوي، دا په يوه ورځ کې د ماشومانو د تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام دي چې کله کاري ځواک په ۲۰۰۹ کې د ماشومانو د تلفاتو په مستند کولو پيل وکړ. يوناما همدارنګه د کم عمره ګمارنې درې پيښې او د ماشوم تښتونې پنځه پيښې مستندې کړې دي.

۳۷. د جولای په ۱۴، د عمر د تاييد د بهبود او د نويو ګمارل شويو کسانو د سکرينينګ/معلومولو او په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په اړه د افغان امنيتي ځواکونو د روزنې په شمول، ملګرو ملتونو د کم عمر استخدام د مخنيوي لپاره د ۲۰۱۱ کال د عمل د پلان د پلي کولو په برخه کې د شوي پرمختګ هرکلی وکړ. د جولای په ۲۳، د بهرنيو چارو وزارت د معين او عدليې وزير سره د يو لړ غونډو په تعقيب، د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د وزارتونو تر منځ د رهبري کميټې د "موافقت په لور د سړک نقشې" په هکله موافقه وکړه. ملګرو ملتونو د سړک نقشې د تطبيق په برخه کې دولت ته د تخنيکي ملاتړ چمتو کول همغږي کړل. ماموريت همدارنګه په ټول هيواد کې د حکومتي او غير دولتي همکارانو سره د مدافعې يو لړ اقدامات ترسره کړي ترڅو په وسله واله جګړه کې د افغانستان د ماشومانو د ساتنې په اړه د خپل رهنما کتابګوټي د خپرولو سره مرسته وکړي.

۳۸. ماموريت د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي په اړه د افغانستان حکومت ته په پرله پسې توګه تخنيکي ملاتړ او مشورې برابروي. د توکيو د دوه اړخيزه حساب ورکونې د چوکاټ د پروسې په اړه، يوناما د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون د تطبيق په اړه د لومړي حکومت د راپور د سپارښتنو پراساس د عمل پلان د پراختيا لپاره د ښځو د چارو د وزارت سره تخنيکي مرسته کړې. د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي په قضيو کې د منځګړيتوب په اړه د لارښودونو د پراختيا لپاره د يوه کنفرانس لپاره په ځانګړي ډول وړانديزونه په پلان کې شامل شوي وو. ماموريت همداراز د امنيت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پريکړه ليک د تطبيق په اړه د بهرنيو چارو د وزارت سره د ۲۰۱۵-۲۰۱۸ کلونو لپاره د عمل د ملي پلان د پياوړي کولو لپاره ملاتړ برابر کړ. سربيره پر دې، د ښځينه پوليس افسرانو د ادغام او د جنسي تيري ښځه د هغوی د ساتنې لپاره د کورنيو چارو د وزارت د ظرفيت د پياوړتيا د رواني پروسې د يوې برخې په توګه، يوناما د شکايتونو د يوه خپلواک ميکانيزم د رامنځ ته کولو غوښتنه کړې ، کومه چې په اصولو کې د دې وزارت لخوا منل شوې.

۳۹. د جولای په ۱۳، د ولسمشرۍ فرمان صادر شو چې د افغانستان له اړخه د پروتوکول سره د هيواد الحاق تصديقوي او موخه يې د افرادو، په ځانګړي توګه، د ښځو او ماشومانو د قاچاق مخنيوی، له منځه وړل او مجازات دي، او د فرا ملي تنظيم شويو جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسيون بشپړوي. په ورته وخت کې، د انساني قاچاق سره د مبارزې لپاره د افغانستان عالي کميسيون په ولايتي کچه د قاچاق په اړه کميسيونونه رامنځ ته کړل، چې مشري يې د والي له خوا کيږي او په ترکيب کې يې د اړوندو وزارتونو استازې شامل دي. د بشري حقونو د ترويج او ساتنې لپاره د بشري حقونو د ملي سازمانونو د همغږۍ نړيوالې کميټې لخوا د ۲۰۱۳ کال په ډسمبر کې د پريکړې په حواله د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د اعتبار په اړه پريکړه وځنډوله، د جون په ۳۰ يې کميټې ته معلومات وړاندې کړل چې څنګه يې په فعاله توګه د کميشنرانو لپاره د انتخاب او ګمارنې د پروسې په اړه د کميټې انديښنو ته په فعاله توګه رسيدګي کوله. مدني ټولنې هم د کميسيون په ملاتړ خپل سپارنې چمتو کړې.

**څلورم. د کابل د پروسې تطبيق او د پراختيايي مرستو همغږي**

**۴۰.** د افغانستان په اړه د وزيرانو د پراختيا د کنفرانس لپاره چمتووالي چې د نومبر په ۲۵ په لندن کې دايريږي، د راپور ورکولو په موده کې د حکومت او نړيوالې ټولنې ترمنځ د خبرو اترو لپاره تمرکز برابر کړ. د جون په ۲۳، د ماليې وزارت او نړيوالې ټولنې په يوه ناسته کې موافقه وکړه چې د کنفرانس هدف به د توکيو د دوه اړخيز حساب ورکونې د چوکاټ د موجوده ژمنې نوي کول وي. ياد وزارت او د نړيوالې ټولنې استازو د کنفرانس پر اهميت تاکيد وکړ او همدارنګه يې د خصوصي سکتور تر مشرۍ لاندې پر وده ټينګار وکړ ترڅو وکولای شي اقتصادي پرمختيا او نړيوالې پانګونې ته وده ورکړي ترڅو په مرستو د افغانستان د اتکا د راکمولو سره مرسته وکړي. کنفرانس به همدارنګه د توانمندي مدني ټولنې او خصوصي سکتور رول او همدارنګه د چوکاټ د موخو د ترلاسه کولو لپاره د سيمه ييز حکومت ښکيلتيا مشخصه کړي. تمويلوونکو د سيمې د يو شمير مشخصو کاري ډلو له لارې د يوه "تازه او نوي شوي" کاري چوکاټ په اړه د نړيوالې ټولنې د شريکانو تر منځ په سلا مشورو او اجماع پيل وکړ. هغه معلومات به د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس لپاره د چمتووالي په برخه کې له راتلونکي اداري سره د

هغوي ښکېلتیا رهبري کړي. د مدني ټولنې ګډې کاري ډلې، چې د مدني ټولنې د نږدې ۱۰۰۰ سازمانونو څخه یوه جوړه شوې شبکه ده، د اصلي کنفرانس او د کنفرانس په څنډه کې د پلان شویو پېښو لپاره چمتووالی پیل کړ.

۴۱. اقتصادي وضعیت لاهم ننګونکی دی. د جولای په ۲۲، د مالیې وزارت راپور ورکړ چې د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې د غیر ګمرکي عوایدو راټولول د هدف څخه ۲۰ سلنه کم و ، دا د ۲۰۱۳ کې د ورته مودې په پرتله د ترلاسه شوي عاید څخه ۲ سلنه کم وو. حکومت د یو شمیر لویو نړیوالو شرکتونو په شمول، د سوداګریز تاسیساتو لخوا د ټکسونو د نه ورکولو له امله حکومت دا مسله د عوایدو کمزوري فعالیت او د پانګونې په برخه کې دوامداره کمښت ته منسوب کړې. سربېره پر دې، د ګمرکي محصولاتو راټولول د هدف د کچې څخه ۲۳ سلنه ، او د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله ۸ سلنه ټیټ شوي. د مالیاتي عوایدو جمع اوري تر ډېره بریده د لوړ ارزښت لرونکي توکو د وارداتو په برخه کې د ۲۲ سلنې کمښت له امله اغېزمنه شوې. د مالیې وزیر، عمر زاخیلوال، د سیاسي ناڅرګندتیا او د پیشبیني په پرتله د ورو اقتصادي ودې له امله د ۵۳۷ میلیون ډالرو مالي تشې اټکل وکړ. د مالیې وزارت دې ټکي ته په اشارې سره وویل چې داسې نښې نښانې نه تر سترګو کېږي چې د نوي حکومت د راتلو دمخه به وضعیت ښه شي. د کنټرول په اقدامونو کې چې دمخه نیول شوي د اختیاري پراختیایي لګښتونو کمول ، د عملیاتو او ساتنې د لګښتونو کمول او د عوایدو د راټولولو لا ښې چارې (د ګمرکونو په ګډون) شاملې دي. د ۲۰۱۴ په لومړي شپږو میاشتو کې د فعالیت سره په پرتله کولو، د جولای په میاشت کې د عوایدو د راټولولو په برخه کې یو څه پرمختګ ثبت شوی. تمویل کونکو د مالې له وزارت سره د مالي تشو د اندازې او لاملونو او په خپلو کې د ممکنه غبرګونو په اړه په پرله پسې توګه خبرې اترې کړي دي.

۴۲. د حکومت د هڅو چې موخه یې د قانوني اقتصادي ودې او د فساد پر وړاندې د مبارزې د اقدامونو ترویج و، د راپور ورکولو د مودې په جریان کې پرمختګ کړی. د جون په ۲۶ د ولسمشر کرزي له خوا د تروریزم د تمویل او د پیسو مینځلو سره د مبارزې په اړه د قوانینو د تصویب په تعقیب، د مالیاتي عمل ځواک، چې یو بین الدولتي نهاد دی او د نړیوال پیسو مینځلو او د تروریزم د تمویل د مخنیوي لپاره لارښودونه ټاکي، د جون په ۲۷ خپله پریکړه چې موخه یې د اداري فساد پر وړاندې د هیواد د دریځ د درجې کښته کول دي، وځنډوله. که څه هم چې کاري ځواک دې ته اشاره وکړه چې که چیرې د ۲۰۱۴ کال تر اکتوبر پورې قانون پلی نه شي، نو بیا به د دریځ د درجې په کښته کیدو غور کوي. دا ډول پریکړې به په افغانستان کې د نړیوالو سازمانونو سره د مالي بنسټونو ښکیلتیا محدوده کړي، د هیواد په دننه او بهر کې به مالي جریانونه محدود کړي او د نړیوالې سوداګرۍ تمویل ستونزمن کړي.

**پنځم. بشري مرسته**

**۴۳.** د جولای په ۱۵، د عامې روغتیا وزارت د ۲۰۱۳ کال د ملي تغذيې سروې موندنې، چې د ملګرو ملتونو په تخنیکي مرسته ترسره شوې وې، خپرې کړې. پداسې حال کې چې د تیرې سروې راهیسې پرمختګونه او ښه والی ثبت شوی، د ۵ کلونو څخه په کم عمر ماشومانو کې د خوارځواکۍ (۹. ۴۰ سلنه) او شدیدې ضیاع (۴ سلنه) په اړه موندنې د ملګرو ملتونو د اضطراري حدودو څخه لوړ دي. موندنو جوته کړې چې د تغذيې د کلیدي مداخلتونو کم پوښښ او د نوي زېږون او ځوان ماشوم د تغذیه کولو د کړنو په اړه د کم پوهاوی د حادې او اوږدې خوارځواکۍ د دوه ګونې ستونزې سره مرسته کړې. په افغانستان کې، د ماشومانو د کلني مړینو ۶. ۱۲ سلنه، چې ټولټال ۱۸۹۰۰۰ دي ، د شدیدې خوارځواکۍ سره تړاو لري. عمومي بشر دوستانه وجهي صندوق د سختې شدیدې خوارځواکۍ سره د رسیدګۍ لپاره اختصاص لومړیتوب بندي کړی دی ترڅو په اتو ولایتونو کې چیرې چې د شدیدي خوارځواکۍ بېړني حدود مات شوي، د ملګرو ملتونو او غیر حکومتي سازمانونو د همکارانو لخوا د غبرګون ملاتړ وکړي.

۴۴. د مۍ د ۳۱ او د اګستې د ۱۵ تر منځ، د هیواد له ختیځ څخه د شپږو راپور شویو قضیو په درلودلو سره او د سویل او لویدیځ څخه په ترتیب سره د یوې یوې قضیې په درلودلو سره، افغانستان د جنوري د میاشتې له لومړۍ نېټې راهیسې د پولیو د ټولټال اتو قضیو پیښې ثبت کړې. د اپریل او جولای په موده کې، د واکسیناسیون ملي کمپاینونه په لار اچول شوي وو او د پنځو کلونو څخه د ټیټ عمر درلودونکي ۹. ۸ میلیونه ماشومان یې واکسین کړل، همداراز د واکسیناسیون سیمه ییزو کمپاینونو

۳.۵ میلیونه ماشومان چې د خطر په لوړو سیمو کې اوسیدل واکسین کړل. د جولای په ۱۰، د کندهار ولایت او د پاکستان د بلوچستان ایالت د تخنیکي کارپوهانو تر منځ د ګوزڼ د همغږۍ غونډه جوړه شوې وه ترڅو د واکسین فعالیتونه هممهال کړي.

۴۵. د جون په ۱۵ د شمالي وزیرستان په ایجنسۍ کې د پاکستان د پوځي عملیاتو له پیل وروسته ، د اګست تر ۱۵ پورې، د افغانستان په ختیځ کې خوست او پکتیکا ولایتونو ته شاوخوا ۱۳۰۰۰ کورنۍ ور اوښتي وې. د پولې په اوږدو کې د ۱۴ ولسوالیو په کچه اټکل ۸۰ سلنه وګړو د کوربه ټولنو سره پناه اخیستې. د خوست او پکتیکا په ولایتونو کې د نړیوالو همکارانو په مرسته د سیمه ییزو چارواکو لخوا تر شېږو میاشتو پورې د غبرګون یو پلان پلي کیږي ترڅو د لومړیتوب د روانو مداخلتونو ملاتړ وکړي او همدارنګه تر ټولو بیړنۍ او شدیدې بشري اړتیاووې پوره کړي.

۴۶. د جولای تر ۳۱، د داخلي بې ځایه شویو کسانو کاري ځواک ، چې ګډه مشري یې د کډوالو او راستنیدونکو د چارو د وزارت او د ملګرو ملتونو له خوا وشوه، په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې د شخړې له امله ۶۰۳۰۷ بې ځایه شوي کسان ثبت کړي، چې په دې سره د داخلي بې ځایه شویو وګړو ټولټال شمیر ۷۰۱۹۰۹ تنو ته رسیږي. د جون له ۲۰ نیټې راهیسې د هلمند په یو شمیر شمالي ولسوالیو کې روانې نښتې د پام وړ ملکي تلفاتو او داخلي بې ځایه کیدنې لامل شوې. د نا امنۍ د لوړو کچو له امله، د بشرپالنې د فعالینو وړتیا ځو په مستقیمه توګه په دغو ولسوالیو کې بې ځایه شویو کسانو ته لاسرسی ومومي، د سړکونو په بندیدو سره ډېر محدود شوې چې د زیاتې اندیښنې وړ دی. د هیواد په شمال کې د فاریاب ولایت په قیصار ولسوالۍ کې روانې شخړې هم د ټولټال ۶۷۴ کورنیو د راپور شویو بې ځایه کیدنو لامل شوې.

۴۷. د ۲۰۱۴ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، ټولټال ۱۰۰۵۵ کډوال (په اوسطه ډول په ورځ کې ۴۷ انفرادي کسان) په خپله خوښه هیواد ته ستانه شوي: د پاکستان څخه ۱۷۱۶۸، د ایران د اسلامي جمهوریت څخه ۲۷۴۱ او له نورو هیوادونو څخه ۱۴۶ انفرادي کسان هیواد ته ستانه شوي دي. د جنوري د میاشتې راهیسې او د راپور ورکولو تر مودې پورې، د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په پرتله، د راستنیدونو په ارقامو کې ۶۵ سلنه چټکوالي راغلی. په ۲۰۱۴ کال کې تر دې دمه د راستنیدو په ارقامو کې کمښت تر یوې اندازې پورې په ټاکنو او د انتقالي مودې په جریان کې د امنیت په اړه اندیښنو ته منسوبیږي.

۴۸. د پناه ځایونو د بهبود په پلان کې د ټولټال ۸۱۶۴ پناه ځایونو د لومړنۍ پیژندنې په تعقیب کوم چې د افغانستان په شمالي برخو کې د اپریل او مۍ په میاشتو کې د سیلابونو له امله ویجاړ شوې وو، د تمویل تخصیص، د پناه ځایونو لپاره د عاجل غبرګون د تمویل په شمول، تر دې دمه د ۹۴۱ پناه ځایونو لپاره تمویل تایید شوی.

۴۹. د ماین پاکۍ په سکټور کې، د پنځو اضافي ولسوالیو په درلودلو سره چې د ماینونو څخه یې پاکې اعلان کړې، د راپور ورکولو د مودې په جریان کې په ۳۲ ټولنو کې د جګړې څلور ډګرونه او د ماینونو ۷۲ ډګرونو له ماینونو څخه پاک شوې. ملګرو ملتونو د ایساف سره کار کولو ته دوام ورکړی ترڅو دا ډاډ ترلاسه کړي چې د اډو او ډزو تمرین ځایونه تړل شوي یا لیږدول شوي او د ناچاودو توکو څخه پاک شوي؛ ۹۴.۴ کلومتره ځمکه پاکه شوې او له ۳۴۰۰۰ ډېر چاودیدونکي توکي او د کوچني وسلو شاوخوا ۱۲۹۰۰ مهمات لرې یا له منځه تللي دي.

۵۰. د بشري لاسرسي محدودیتونه په دوامداره توګه د ملګرو ملتونو د نړیوال نظارتي چوکاټ لاندې ثبت شوي. د پرسونلو، شتمنیو او تاسیساتو پر وړاندې بریدونه او د روغتیایي تاسیساتو څخه سرغړونې د اندیښنو د مهمو ساحو په حیث پاتې دي. د اګسټ په ۱۵، د ۱۱۴ تښتونو او عمدي تښتونو او نیونو او د پنځو کسانو د توقیف په درلودلو سره، په ۲۰۱۴ کال کې د پرسونلو، شتمنیو او تاسساتو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۱۱۷ پیښې ریکارډ شوې چې په نتیجه کې یې ۳۵ مرستندویه کارکونکي وژل شوي او ۳۵ ټپیان شوي دي. د جنوري د ۱ او د اګسټ د ۱۵ تر منځ، ۴۱ پیښو غیر دولتي، د دولت لخوا اداره شوي روغتیایي تاسیسات او شتمنۍ متاثره کړې چې زیاتره یې په ختیځو او مرکزي ولایتونو کې وو.

۵۱. د اګسټ تر ۱۵، د افغانستان لپاره ټولیز بشر دوستانه تمویل ۳۴۵ میلیون ډالرو ته ورسید چې د له هغه جملې څخه ۲۰۶ میلیون ډالره د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ستراتیژیک غبرګون پلان ته ځانګړي شوي (۵۱ سلنه تمویل). د پاته بیلانس څخه ۵۶ میلیون ډالر نړیوال سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې ته راپور شوې، د بشر پالنې د عمل لپاره د نږدې ۳۰ میلیون ډالرو ژمنه شوې خو تخصیص شوې نه دي، د راپور سره سم پاته برخه نه ده همغږي شوې. د پلان سره د همغږي

تمويل له جملې څخه دوه پر دريمه برخه د ملګرو ملتونو نمايندګيو او يوه پر دريمه برخه نا دولتي سازمانونه ته تخصيص شوې. تر نن ورځې پورې د افغانستان لپاره تر ټولو لوی بشردوستانه مرسته کونکي د امريکا متحده ايالات ، جاپان ، کاناډا ، د کوريا جمهوريت ، ډنمارک او سويډن دي. د اضافي اړتياوو په نظر کې نيول سره چې د تغذيې د ملي سروې څخه راولاړيږي، له پاکستان څخه د زياتو راستنيدونکو مهاجرينو راستنيدل او د سيلاب نه وروسته د پناه اخيستنې په غبرګون کې، د جولای په مياشت کې د هيواد د کچې د بشردوستانه ډلې لخوا د ۴۰۶ ميليون ډالرو د پلان نيمه کلنې بياکتنې وړانديز شوې تخصيصونه لومړيتوب بندي کړل.

**شپږم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۵۲. ابتدايي ارزونې ښيي چې په ۲۰۱۴ کال کې د ترياکو ۲۶۹۲ هيکتاره ځمکه له منځه وړل شوې چې دا به د ۲۰۱۳ کال په پرتله د ۶۳ سلنې څخه استازيتوب وکړي. کيدای شي ياد کمښت د امنيتي څواکونو له خوا په هغه تمرکز پورې تړاو ولري چې موخه يې د ټاکنو د بهير خوندي کول و. د جون د ۱ او د اګست د ۱۶ تر منځ، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې افغان پوليسو ټولټال ۵۹۷ عمليات ترسره کړې چې په نتيجه کې يې ۵۲۹ تورن کسان نيول شوي او همدارنګه د هيروئينو د توليد ۱۶ ناقانونه لابراتوارونه له منځه وړل شوي او ۴۴۶۰ کيلو ګرامه کيمياوي پريکرسر، ۱۳۲۵۹ کيلو ګرامه ترياک، ۱۰۵ کيلو ګرامه د ترياکو دانې، ۶۵۴ کيلوګرامه هيروئين، ۲۶۴۲ کيلو ګرامه چرس، ۲۱۶۵ کيلو ګرامه ام فيتامين، ۲ ګيلو ګرامه مورفين، ۸۱ نقليه وسيلې او ۶۶ ميله بيلابيلې وسلې ضبط کړې دي. د يادو عملياتو پر مهال، د دندې پر مهال نهه تنه پوليس افسران ټپيان شوي دي.

۵۳. په قزاقستان کې د جون په ۲۶ او ۲۷ يو سيمه ييز کنفرانس جوړ شوی و ، چې د مخدره توکو او HIV په مخنيوي يې تمرکز درلود. د جولای له ۲ څخه تر ۴ پورې ، په قرغزستان کې يو سيمه ييز ورکشاپ چې سرليک يې"د پيسو غيرقانوني کارول او د ارزښت د ليږد خدمتونه" و جوړ شو. ورکشاپ په لويديځ او مرکزي آسيا کې د پيسو مينځلو ضد د سيمه ييزې ډلې د کارپوهانو دوهمه ناسته تسهيل کړه.

**شپږم. د ماموريت ملاتړ**

۵۴. يوناما د سياسي، امنيتي او مالي چاپيريال په بې باوريو کې د خپل ماموريت د ښه ترسره کولو لپاره د سرچينو همغږي کولو ته دوام ورکړی. د راپور ورکولو د دورې په جريان کې ، په ملګرو ملتونو د نړيوالو پوځي ځواکونو د کميدلو د احتمالي اغيزو، په ځانګړي توګه د هوايي ډګرونو د امنيت او طبي ملاتړ په اړه ارزونه په پرله پسې توګه ترسره شي.

۵۵. د دې لپاره چې د ولسمشرۍ د ټاکنو د تفتيش په پروسه کې د ملګرو ملتونو د هڅو سره مرسته وشي، يوناما په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د دفتر په ودانۍ کې د اروپايي اتحاديې د تر ۱۰۰ زياتوکتونکو لپاره د استوګنې د خوندي ځای لپاره د چمتووالي همغږي وکړه. د دې سربيره، يوناما د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام سره يو ځای کار وکړ ترڅو د هيواد په کچه د کميسيون د تاسساتو څخه د تفتيش د يوې برخې په حيث په کابل کې خپلو مرکزي دفترونو ته د رايو د بيرته ترلاسه کيدو د ملاتړ په برخه کې اضافي هوايي امکانات چمتو کړي.

۵۶. ماموريت د کارمندانو او نورو سرچينو د تخنيکي پلې کيدو يا غځيدنې پر اساس د ۲۰۱۵ کال د لومړيو شپږو مياشتو لپاره لنډمهاله بوديجه وړاندې کړه. د انتظار وړ سياسي ليږد نه وروسته او د روان امنيتي ليږد په پام کې نيولو سره، د ۲۰۱۴ کال د څلورمې ربعې لپاره تخنيکي ارزونه پلان شوې؛ د ارزونې پايله به د ۲۱۰۵ کال لپاره د بوديجې په سپارلو کې منعکسه شي چې په ۲۰۱۵ کال کې به وسپارل شي.

**اووم. کتنې**

۵۶. د راپور ورکولو موده د افغانستان لپاره يوه خورا هڅونکې موده وه، د ټاکنو د يوه اوږده او له سيالۍ څخه ډک بهير په درلودلو سره چې اقتصادي بې باوري لا پسې پراخوي، مخربو ته نور جرئت ورکوي او د خلکو نااميدي زياتوي. د ژوند په هر ډګر کې د اغيزې په احساسولو سره، د خلکو په منځ کې د لمس وړ اضطراب شتون لري څوک چې ټول په ښه توګه په ياد لري

چې کله حکومتي اداري لا له وړاندې ناکامه شوې او کورنۍ جګړې ته ننوتې. زه د میلیونونو افغان مېرمنو او سړو حوصلې او عزم ته چې د رای ورکونکو ، کاندیدانو، د کمپاین او د انتخاباتي کارمندانو او ناظرینو په توګه د رای ورکولو په دوو مرحلو کې برخه اخیستې وه سلام کوم. د یوه سوله ییز، دیموکراتیک مشرتابه د لېږد د ترلاسه کولو لپاره باید د هغوي د هیلې درناوی وشي.

.٥٨ د رایې اچونې د دوهم پړاو په تعقیب او د هغه له امله، او د دواړو نوماندانو او ولسمشر په غوښتنه، ملګرو ملتونو د تفتیش د پروسې نظارتي نقش په غاړه واخیست او پشپړ واک او مسؤلیت یې د افغان ټاکنیزو ارګانونو سره و. د دې بلند پروازانه کړنې د بې ساري کچې او پیچلتیا سره سره ، تفتیش د څو ورځو په دننه کې پیل شو او په دوامداره توګه یې دوام درلود خو سرعت یې یو برابر نه وه، په دې نیت سره چې جعلي رایې د اعتبار وړ رایو څخه چې د جون په ١۴ نېټه صندوقونو ته لویدلي وې، جلا شي. د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو د وزیر کیري په ملاتړ، دواړو نوماندانو د جولای په ١٢ ژمنه وکړه چې د هیواد د راتلونکي مشر د ټاکلو په برخه کې به د تفتیش پایلې مني او یاده ژمنه یې د اګست په ٨ بیا تکرار کړه. د دې هڅو سره په ګډه، د ملي یووالي د توافق شوي حکومت د بنې او دندو د توضیح کولو لپاره د افغانانو ترمنځ خبرې اترې تر سره شوي. د افغانستان پر وړاندې ګڼ شمیر اقتصادي او امنیتي ننګونې قوي مشرتابه او د موخې یووالي ته اړتیا لري: ځکه نو د ریښتنې ملګرتیا لپاره ژمنې خورا مهمې دي.

.٥٩ د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د اوږد مهاله سیاسي ناځرګنتیا او د نړیوالو ځواکونو د شمیر د کمښت په منځ کې، مخربو عناصرو – طالبانو، اړوندو یاغي ډلو، داخلي او نړیوالو ترهګرو شبکو، جرمي ډلو او د قدرت محلي دلالانو بیا ځانونه مطرح کړل. د ښځو او ماشومانو په منځ کې د مړینې او ټپي کیدو په شمیر کې د خطرناک زیاتوالي په درلودلو سره، ملکي کسان په دوامداره توګه د ډزو په تبادله کې راګیر دي. د شخړې بدلیدونکې ماهیت د دې لامل شوی تر څو ځمکنۍ نښتې را منځ ته شي او په دې سره د ملکي تلفاتو مخکښه لامل ګرځیدلی. د بشري لاسرسي پر وړاندې ننګونې هم مخ پر زیاتیدو دي او زه په جګړه ځپلو سیمو کې د معافیت د کمپاینونو د یقیني کولو په برخه کې د ترسره شوي پرمختګ هرکلی کوم. ملګري ملتونه چې د ټولو خواوو سره د ښکېلتیا په لټه کې دي، د هغه ډاډ حاصلولو په شمول چې د بشردوستانه او بشري حقونو په مسؤلیتونو پوه شي او هغه ترلاسه کړي، ترڅو په ملکي خلکو باندې د وسله والې شخړې اغیزې له منځه یوسي.

.٦٠ د ٢٠١۴ کال د جګړې د فصل په اوږدو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د لوړې کچې ښکیلتیاوو افغان امنیتي ځواکونه د ازمایښت سره مخ کړل. پداسې حال کې چې د پوځ او پولیسو پرسونل په ډېره مېړانه د سترو ننګونو پر وړاندې غبرګون ښیې، د دې په خاطر چې د روانو ګواښونو سره پریکنده مبارزه وشي، د ظرفیت او وړتیا څخه د ډاډ حاصلو په خاطر افغان اداري د څو کلونو لپاره دوامداره او د پام وړ نړیوالې مرستې ته اړتیا لري. په داسې حال کې چې دا منو چې د هغوي ژمنې په زیاتو انساني تلفاتو تمامې شوې، زه د ایساف سره د ډېرې هیوادونو دوامداره ژمنې ستایم. سره لدې چې افغانان اوس د خپل هیواد د امنیت بشپړ مسؤلیت لري ، او لکه څنګه چې آیساف د خپلې دې دندې پای ته نږدې کیږي، زه د افغان ځواکونو سره د نړیوالو ژمنو د دوام ، کومې چې د شمالي اتلانتیک د تړون د سازمان (ناتو) په ناسته کې چې د متحده ایالاتو په شیکاګو او لیزبون کې ترسره شوې د دوام او ترسره کیدو غوښتنه کوم. د راتلونکي امنیتي مرستې د چمتو کولو او پلې کولو لپاره موافقه شوي حقوقي چوکاټونه او د پلانولو معیارونه اړین دي. دا د ناهیلي وړ خبره ده چې د ټاکنو په پایلو کې دوامداره ځنډ د دې لامل شو چې افغانستان و نه شي کولای د نوې مشرتابه په واسطه په نیپورټ، ویلز، انګلستان او شمالي آیرلینډ کې د ناټو په سرمشریزه کې چې د سپټمبر په ۴ او ٥ نیټه جوړه شوې وه، د افغانستان استازیتوب وکړي، چیرې چې د افغانستان نړیوال همکاران یوځل بیا له ٢٠١۴ کال څخه وروسته هم خپلو مرستو ته دوام ورکوي. نوې اداره به د امنیتي روشونو په اړه د پریکړو د نیولو په برخه کې ګړندي خوځښت ته اړتیا ولري. زه د دواړو کاندیدانو له خوا د هغه ګډ بیان په اړه کوم چې دوی د ناټو سرمشریزې ته وړاندې کړ، په کوم چې دوی "په یوه جامع سیاسي لرلید"، د ملي یووالي په حکومت، او همدارنګه له متحده ایالاتونو سره د دوه اړخیزه امنیتي تړون او د ناټو سره د ځواکونو د وضعیت په اړه د تړون موافقه وکړه، هرکلی کوم.

.٦١ د افغانستان د ډېریدونکې مالي تشې سره د مبارزې په موخه او د دې ډاډ ترلاسه کول چې کیدای شي عادي بودیجوي لګښتونه ترلاسه شي، دا به د نوې اداري لپاره هم یوه فوري ننګونه وي. د ټاکنو اوږدې مودې، د لوړو دولتي موقفونه تش پاته کیدو، اوږدو کمپاینونو او د ټاکنو وروسته کړکیچ شدیدې ناځرګندتیا، د ودې په برخه کې د چټک کموالي، د پانګوالو د باور د کمیدو او د عوایدو د راټولولو په برخه کې د کمزوري فعالیت سره مرسته وکړه. د افغانستان د نن ورځ اقتصادي وضعیت د

اندیښنې ور دی. د وزیرانو پراختیایي کنفرانس، چې د نومبر په میاشت کې په لندن کې جوړیږي، د افغانستان د حکومت او تمویلوونکو ترمنځ د توکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې د چوکاټ د مرکزي جوړښت په شاوخوا او د نوې ادارې د لومړیتوبونو او پروګرامونو سره په سمون کې د مشارکت د تاییدولو لپاره حیاتي فرصت چمتو کوي. د افغانستان مخ پر وده ناقانونه اقتصاد د ناځرګندتیا عامل او سرچینه ده او د کموالي هیڅ نښه نښانه نه ښيي. زه د نوې ادارې او نړیوالې ټولنې لخوا د جدي سیاسي ارادې د ښوولو غوښتنه کوم ترڅو په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې مؤثرې هڅې چې بنسټ یې پر پراختیایي لومړیتوبونو ولاړ وي او قانوني اقتصاد پیاوړي کوي او غیر قانوني اقتصاد کمزوری کوي ، یقیني کړي.

٦٢. د ناځرګنتیا اغیزې د افغانستان له پولو ور ها خوا هم احساس شوې، د افغانستان ګاونډیان د یوه ټیکاو لرونکي حکومت او اغیزمنې حکومتدارۍ په اړتیا ټینګار کوي. د سیمه ییزو همکارانو سره د افغانستان په اړیکو پورې تړلې اهمیت د استانبول د پروسې د وزیرانو د څلورم کنفرانس لپاره په پلانونو کې لیدل کیدای شي، چې د چین په تیانجن کې ترسره کیږي، ترڅو سیمه ییزه همکاري یوې لوړې کچې ته پورته کړي. یاد اهمیت د غونډې په ځنډیدو سره هم څرګند شوې تر څو د نوې ادارې لپاره انتظار و ایستل شي. زه ټول برخه اخیستونکي او ملاتړ کونکي هڅوم چې د دې مهم نوښت او د دې سره د اړوند اعتماد جوړونې د اقدامونو سره په په حرکت کې فعاله او رغنده ښکیلتیا زیاته کړي. د راپور ورکولو د مودې په جریان کې د افغانستان او پاکستان تر منځ دوه اړخیزې اړیکې له ننګونو ډکې وې. د امنیت، تروریزم ضد مبارزې، د افغانانو تر رهبري لاندې د هڅو او اقتصادي پراختیا په شمول، زه په دواړو ګاونډیو هیوادونو غږ کوم چې په کابل کې د نوي ادارې د فرصت په کارولو سره اړیکې له سره تنظیم کړې او د ګډې علاقې ور ساحو کې د مؤثره همکارۍ لپاره فضا زیاته کړي.

٦٣. د ټاکنیزې پروسې له لارې د واک لیږد، او د نوماندانو له خوا د پایلو منل هغه یوازینۍ وسیلې دي چې نوي مشر او حکومت ته اختیارات ورکوي چې د ننګونو سره مبارزه وکړي. د واک مشروع لیږد هم د افغانستان د موسساتي او قانوني چوکاټونو او په هغوي باندې د خلکو د باور د ساتنې تر ټولو ښه لار ده. تر دې دمه چې لا هم ځیني پیښې مشخصې نه دي، زه د هیواد مشران هڅوم چې د خلکو هیلو او د ملي یووالي مسلې ته لومړیتوب ورکړي او د غلطي محاسبې یا بدبختي پر وړاندې یې ساتنه وکړي او په دیموکراتیک بهیر باندې د دوی د باور د بیرته راګرځولو په برخه کې ورسره مرسته وکړي. زه د تفتیش په پروسه کې د ملګرو ملتونو د منل شوي رول، او د سیاسي هوکړه لیکونو لپاره د ملاتړ، د شخړې د مخنیوي د ماموریت او د افغانستان د لیږد د بریالیتوب لپاره د یاد سازمان د ژمنې د ریښتني انعکاس په توګه د ماموریت په اړه په بې ساري غبرګون ویاړم. د سیستم پر اساس د سرچینو ، پرسونلو او تخنیکي مهارتونو چټک او پراخ تحرک د "یوه واحد ملګرو ملتونو" نوښت په خورا ښه توګه څرګندوي. د یوناما د ١٣ ساحوي دفترونو د شبکې لخوا هڅې لا زیاتې شوي دي. زه همدارنګه غړي هیوادونه او سیمه ییز سازمانونه په چټکې سره د نړیوالو کتونکو د ځای پر ځای کولو، او د ایساف له طریقه د تراسپورټ او امنیتي ملاتړ د برابرولو لپاره ستایم.

٦٤. غواړم له خپل ځانګړي استازي یان کوبیش څخه د افغانستان او د دې هیواد د خلکو لپاره د هغه د غوره خدمت له امله مننه وکړم. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو چارې د ښاغلي کوبیش تر رهبرۍ لاندې هغه مهال تر سره شوې چې هیواد د د لیږد د بهیر په یوه حساسه شیبه کې قرار درلود، او د سازمان د اختیاراتو د پوره کولو په برخه کې یې د هدف او ارامه مسلکیتوب لپاره روښانه درک برابر کړ. په دې توګه، هغه د ټولو افغانانو، سیمه ییزو او نړیوالو شریکبانو سره په بې پرې توګه کار وکړ او د ملګرو ملتونو اصول او ارزښتونه یې تمثیل کړل. زه همداراز غواړم چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ټولو داخلي او نړیوالو کارکونکو څخه، اکثرا د ننګونو څخه په ډکو شرایطو کې، د دوی د دوامداره سرښندنې او فداکاري لپاره چې د افغانستان د خلکو په ملاتړ زمونږ ژمنې پوره کوي، مننه وکړم.